محمد ایاز نوري ۲۰۱۵/۰۱/۱۶

# د افغانستان د ملت دښمنانو غل حبیب الله بچه سقاو ولمانځه

ما لیکونکي د خپلي یوي وروستی مقالي په ترڅ کي، چي عنوان یي (د غازي پاچا امان الله تکفیر کول د بچه سقاو له خواء، ۲۱ د دسمبر ۲۰۱۴) وه، د هغي خبرتیا ، د حبیب الله مشهور په بچه سقو د مقام د لمانځلو په هدف د انګستان هیواد د لندن په ښار کي جوړېدونکي ده، بشپړه متن، چي د خاوران د ملي ضد او افغانستان دښمنه ویب پاڼي له طریقه نشر شوی وه، خپلو درنو هیواد والو ته تقدیم کړی وه.

دا یو شمېر نفاق اچوونکي افغانان، چي په سر کي یي پروفیسور رسول رهین، ډاکټر بصیر کامجو ( د نجیب د حکومت تر راپرزېدو پوري هلته یو کارملي پرچمی )، امیر فروغ، هارون امیر زاده، ژاله ظفری آریایي، سید اسحق دلجو حسینی، سید نوید محسنی، کریم کریم، بانو آرزو نوبهار، دستګیر نایل، واحد خرم، نصیر احمد تمکین، سید حکیم، امان الدین مبارز، اسلم احمدی، اسد سکندری او نور د تېر کال د دسمبر د میاشتی په ۱۴ نیټه د انګستان په پلازمینه لندن کي سره ټول او د یوي غونډي په ترڅ کي، چي عنوان یي ( تحلیل و ارزیابی جایگاه والای شاه حبیب الله کلکانی در تاریخ معاصر افغانستان) ورکړئ وه، حبیب الله مشهور په بچه سقو ته یي خپل درنشت او ګویا خپل خلوص وښود. وروسته بیا د خاوران ویب پاڼي د دغي غونډي راپور او اړوند انځورونه خپاره کړل. که څوک دغه انځورونو ته دقیق شي نو کیدای شي دغه مجلس ته به د ماشومانو په شمول تر شپیته اویاوو کسان راغلي ول، په داس حال کي، چي په لویدیزه اروپا بالخصوص په آلمان، هالنډ او انګستان کي په زرهاوو افغان مهاجر پراته دي. زه په دي باوري یم، چي دغي عجیبه غونډي ته به یو پښتون افغان، یو هزاره افغان او یا ترکمن ازبک افغان، چي د افغانستان تاریخ یي لږ ویلی وي او یو وار هم د بیداروجدان په کوڅه تېر شوی وي، تشریف به یي نه وي وروړی.

که د دي غونډي رپوت ته کس ځیر شي د شاه حبیب الله کلکاني یو اړخیزه ثنا او صفت شوی دئ، هېڅ داسی علمي او منطقي دلیل په کي نشته، چي دغه جاهل، فاسق او د لیک او لوست نه بي برخي یو افغان ولي او په کومي اړتیا او پر کوم روا استحقاق پر امانی خپلواک دولت او زعیم یي اعلیحضرت غازي امان الله خان یرغل وروړ او هغه ویاړمن حکومت یي له منځه یووړ.

د دي ملي ضد غونډي یو ویناوال، پرچمی بصیر کامجو داسی لیکلي دي: ؛؛ شتاب زدگی در تحقق راهکار های مدنی دولت امان الله که متناسب به پذیرش آگهی شعور اجتماعی جامعه نبود از یکسو، تطبیق مالیات سنگین، فقر و تهی دستی و انشقاق و چند گانگی قومی، عدم قانونیت و تراکم انواع مظالم درهم آمیخته اجتماعی و ده ها انګیزه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

درون کوفته ناشی از حاکمیت مطلقه نظام، از سوی دیگر همه دست به دست هم داده اثرات اسف باری را در حیات اجتماعی مردم به وجود آورده بود. این ناخرسندی اجتماعی درکل باعث انگیزه شورش و تحرک نیرو های اپوزیسون در سراسر؟ کشور گردید. از جمله قیام ملا عبدالله گردیزی مشهور به ملا لنگ در مارچ ۱۹۲۴م، قیام مردم شینوارو خوگیانی در ۱۹۲۹م..
بلاخره قیام مردم شمالی در نوامبر و دسامبر۱۹۲۸م. بقیادت حبیب الله مشهور به خادم رسول الله بود که پایه های دولت امانی را لرزان و شکننده ساخت و باعث زوال و سرنگونی آن گردید.؛؛
په پورتنی قضاوت کې بصیر کامجو د بهرني تاکونکي عامل یعنی د هغه وخت د انګریزي استعمار مرموز لاس، چې په ټولو امانی ضد پاڅونونو او په اخص ډول د غله بچه سقو سره، قطعا نه یادوي او ذکر یواځې د کورنیو ستونځو نه کوي. زه د کامجو نه پوښتم، چې آیا ته درواغ نه وایي، چې لیکي، چې د امانی دولت د حاکمیت په وخت کې او یا یې هم په وروستیو کلونو کې پاڅونونه په ټول هیواد کې سراسري موجود وه؟ په داسی حال کې، چې غیر له خوست او شینوارو د سیمو نه نورځو په ټول افغانستان کې خلک امانی دولت ته تابع ول. او بل دا چې که دغه ستا له خوا لیکل شوي کورنې عوامل ټول واقعیت ولري نو د دغو ملي ستونځو د حل لپاره ستا په انسانیت، علمیت، منطق او وجدان او شرافت، چې د یوه روشنفکر نیکتایی دې هم ټومبلي ده، آیا د اعلیحضرت غازي امان الله خان تبادله، چې زما او ستا د پلارنې هیواد د آزادي محصل وه د یوه فاسق او جاهل انسان حبیب الله سره، دا یو روا او معقول کار وه؟
آیا ستا خادم رسول الله؟ د انګریزي استعمار په لاس کې یوه ګودۍ نه وه؟

افغان لیکوال او د تاریخ څېړوونکی میر غلام محمد غبار لکه یو عالم او سر لوړی خپلواک تاجیک افغان پخپل کتاب، افغانستان در مسیر تاریخ دوهم ټوک ۵ مخ کې داسی لیکي:

## بقیه عکس العمل ارتجاع

### ۱۳۰۸ شمسی، ۱۴می ۱۹۲۹- ۱۵ اکتوبر ۱۹۲۹
### یکم

### حکومت اغتشاشی حبیب الله کلکانی (بچه سقا) بعد از سقوط دولت امانیه

**پس ازانکه شاه امان الله واداشته شد تا افغانستان را ترک و براه قلمرو دشمن (هند)به اروپا (ایتالیا)مقیم گردد، وظیفه نخستین بچه سقا بانجام رسید، زیرا غیر از چنین قوتی بیفکر، دیگری نمیتوانست بر روی امان الله خان موفقانه شمشیر براند. اینک نوبت به اجرای وظیفه غایی حکومت اغتشاشی رسید و آن اینکه توسط بچه سقا راه انهدام خودش و ورود یک دولت جدید که مد نظر بود باز گردد؛؛**
دا پورته لیکنه او ډېرغوره تحلیل د یوه تاجیک وطن پال افغان شاغلي غبار ده، چې یو کتاب معنی او مفهوم په کې پروت دئ، لیکن د لندن د غوندې کسان او د بچه سقا مریدان بیا ځان ورنه تېروي او له ډېرې وارخطایي نه مخ ځینې اړوي. په دې متن کې د حبیب الله حکومت ته اغتشاشي یعنی یو د باغي او د قانون نه وتلي حکومت صفت ورکړل شوی دئ.د نوی پاچا د نوم سره **بچه سقا** ضمیمه شوی دئ.غازي اعلیحضرت امان الله خان **مجبور** کړای شوی، چې لومړی له واک نه خلع او بیا هیواد پرېږدي. او دا د بچه سقا لومړنی **دنده** بلل شوې ده، یعنی حبیب الله توظیف شوی وه، د چا له خوا؟ واضحا، چې د انګلیس له خوا، یعنی په دې حالت کې هغه ته باید نه کوم خادم دین رسول الله، بلکې د انګلیس یو مزدور باید ووایو. **قوتی بیفکرا!!** دا ذکر د لیکوال هم لویه معنی لري، یعنی دا د غلو داړه، وحشي، جاهل او له سیاست،علم او پوهې نه بې برخې اوغافل، بې مسوولیته لیونیان... نو د داسی یوې ډلې راتګ د افغانستان د بادشاهي مقام ته... آیا دا عمل د ټول افغانستان د خلکو په حق کې یو ملي خیانت نه وه؟؟ غبار په همدې جمله کې وایي، چې غیر له دغسی کسانونه، بل په هیواد کې داسی څوک نه وه، چې په داسی وحشي توب په هغه لوی ملي شخصیت امان الله خان وروداندګي...؟! لیکن کامجو دعوه کوي، چې په سراسر؟ د افغانستان کې خلک ناراضه او بغاوت ته حاضر ول.غبار تحلیل کوی، کله، چې باغیانو قدرت قبضه کړ لومړنی ورکړل شوې **وظیفه** یې سرته ورسوله او وار دوهمې او وروستنی دندې ته راورسید او هغه د خادم د دین؟ هغه ناروا او د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ليونتوب کړني وي، چې د سياسي اوضاع دې ته برابره کړي، چې خلک دومره مضطرب او حيران پاتې شي، چې بل زعيم او بل حکومت د سر په سترګو قبول کړي، چې په انګرېزي پلان کې درج وه.

زه د يوه افغان په حيث دغه قوت بيفکر ته حيران يم، چې دوی په ځومره بی باکي او غداری پراعليحضرت غازي امان الله يرغل وروړ...؟!. زما د مطالعې په خونه کې زمونږ د ملت ګډ ويارِ د غازي امان الله مرحوم يو انځور نصب دئ، زه خدای حاضر ګنم، چې کله زما سترګې په دغه انځور ولګېږي ماته حيا او ادب راځي، ليکن د سقاو دارِي پرهغه نيک فکره پاچا وسله واله حمله وروړي وه او که په لاس ورغلی وای واژه يې هم...آخر په کوم موجهه دليل...؟!.

په دوام پرچمی بصير کامجو بيا د کمونيست او اسلام ماسک له ځانه لرې کوي او خپله د زړه خبره، چې هم هغه د نفاق او توکم پالنې ( د خدای پرستي پر ځای قام پرستي ) د افراط نه ډک پليد او ناروا احساس دئ، داسی رابربندوي:
؛؛ درهنگام تسخير کابل، شاه حبيب الله بتاريخ ۱۷ جنوری ۱۹۲۹م از شاه عنايت الله و اعضای دولت امانی، بعيت نامه انتقال قانونی حکومت را پذيرفت و بصورت رسمی بر تخت شاهی افغانستان تکيه زد. پس از زوال حکمروايی شاهنشاهی دودمان غوريان تاجيک تباردر سال ۱۲۱۵ م، حبيب الله خان اولين شاه است که بعد از گذشت ۵۳۲ سال حکمروايی دودمان ترکان و ۱۸۲ سال و اند سال حاکميت پشتونها ( افغان ) در سر زمين آريان و خراسان ( افغانستان ) بوده که بار ديگريک تاجيک تبار به سروری تخت شاهی می نشيند. و از ۱۷ جنوری الی ۱۳ اکتوبر ۱۹۲۹م. بصفت شاه افغانستان خدمت می نمايد؛؛.
کامجو په پورتنی ليکنه کې د حکومت د قانوني انتقال نه ذکر کوي، اما لارې نيوونکی حبيب الله خو په وسله وال يرغل د افغانستان شاهي ارګ ونيو؟. او دا پرچم صاحب د افغانستان ټولو پښتنو اوسيدوونکو ته افغان وايي او نورو قاموسونو پورې مربوط کسان افغانان نه بولي.
بلې، په افغانستان کې قاموسونه شته دي او پشتون قام د شمېر په بنسټ تر ټولو ډېراو لومړی دئ. افغانستان د هراوسېدوونکي کوردئ.هر افغان په دې کورکې حق او موازي ورسره مسوولیت لري، هيڅ افغان د هغه بل نه، بايد کوم امتياز ونلري. اوس په طبعی ډول که هر سياسي تحول په افغانستان کې راځي، چې د پښتون قام ملاتړ اوهوکړه ورسره نه وي، هغه شخصيت او ډله حکومت نشي کولای، راځی، چې مونږ ټول د افغانستان اوسېدونکي، دا حقيقت ومنو.

زه د لندن د سقاوي غوندې د ګډون والو نه دا پوښتنه هم لرم، چې تاسو ځانونه د حبيب الله کلکاني مريدان او مخلصين راپېژنی، ليکن ستاسو پير پخپل هغه فرمان کې، چې پاچا امان الله يې په کې تکفير کړئ يو دا وه، چې هغه پاچا دريشي اغوستل او ګيره خريبل رواج کړي ول. زه، چې وينم په دې يادګاري؟ عکس کې خو تاسو ټولو د غازي امان الله د قيافې اطاعت کړئ دئ، هر يو مو د دريشي او نيکتايي سره تشريف راوړی او ګيرې مو هم خريبلې دي. حال دا، چې که تاسو په ربښتيا حبيب الله ته مخلص ياست نو تاسو هر يوه بايد يوه له د خولو له بويه ډکه لونګی په سرلرلای او د هغه عيار خراسان؟ غوندې د اوږدې ګيرې سره دې پرتميني؟ غوندې ته راغلې واست... ستاسو ځواب څه دئ؟

**درنو هيواد والو افغانانو!**
د لندن سقاوي غونډه که څه هم د کميت په بنسټ لويه نه وه ليکن پښتو متل دئ، چې ؛؛له سپرغی نه درمند وسوځېد؛؛، د هيواد تاريخي بهير ته که وګورو، د حبيب الله د غلو دارِه هم کوم لوی پوځ نه وه ليکن د کورني خاينانو او د بهرنی پټ او بربنډ انګرېزي لاربښوونې پر اساس يې زمونږ ويارِمن امانی دولت له منځه يووړ او له هم هغه نېټې افغان ولس لا تر نن پورې په مصيبت او اور کې راګير شو. د داسی له منفی عقدو ډکو افغانانو يو حرکت، بايد چې بيخي بی اهميته هم ونه ګڼو. داسی حرکتونه بهرنی پټه حمايه هم لري، نو زما هيله د هر وطن پال هيواد وال نه دا ده، چې د خپل وخت امکان او فکري استعداد پربناء داسی ملي ضد خوځښتونه وغندي او افغان ملت ورنه عندالموقع خبر وساتي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**د دې لیکنې په پای کې، زه دلته خپل ملي مکلفیت او په ځان پور ګڼم، چې د دغو افغان ویاړمنو مبارزو شخصیتونو نه په لومړي قدم کې له کاندید اکادیمیسن محمد اعظم سیستانی (آیا تجلیل از حبیب الله کلکانی بیحرمتی به دیگر شخصیت های خوشنام ولایت پروان نیست؟؟ ، کابل و کلکان هرگز جزو خراسان نبودند)، پروفیسور خلیل الله هاشمیان (کنفرانس رسول رهین بچه سقو را شاه عیاران خراسان معرفی کرد)، جمال خان بارکزي (دست قلمبد ستان حقیقت نویس قابل بوسیدن است)، ملالی جان موسی نظام (در تجلیل از حبیب الله کلکانی حقایق تلخی نهفته است)، په خوښې او پوره رضایت یادونه وکړم، چې د دې ملي ضد غونډې د دایرېدو نه پس یې قلمونه راواخیستل او په عالمانه، منطقي او مستندو تاریخي شواهدو یې دا غونډه محکومه کړله، د وینا والو خبرې یې درواغ ثابتې کړلې او غل حبیب الله یې نور هم د افغانستان مظلوم ملت ته رسواء او د غازي اعلیحضرت امان الله خان ارواح یې نوره هم خوشحاله کړله.**

اخځنلیک:
بصیر کامجو، آموزه هایی از تاریخ خود فرمانی ملی شاه حبیب الله
د خاوران ویب پاڼه

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ